# څوک چې د الکهف سورت له پیل نه لس آیتونه حفظ کړي، له دجال څخه به خوندي پاتې شي» او په یوه بله روایت کې راغلي چې: «د الکهف سورت له پای څخه

له ابو الدرداء رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «څوک چې د الکهف سورت له پیل نه لس آیتونه حفظ کړي، له دجال څخه به خوندي پاتې شي» او په یوه بله روایت کې راغلي چې: «د الکهف سورت له پای څخه».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي ﷺ خبر ورکړی چې څوک د الکهف سورت له پیل څخه لس آیتونه له یادو زده کړي، هغه به د دجال له فتنې نه وساتل شي، خوندي او محفوظ به پاتې شي کوم چې د قیامت نه مخکې راوځي او د الوهیت دعوه به کوي، او د هغه فتنه به په ځمکه کې تر ټولو لویه فتنه وي؛ د حضرت آدم علیه السلام نه تر قیامته پورې، ځکه الله تعالی به هغه ته داسې خارق‌العاده کارونه ورکړي چې پرې خلک غولوي او ازمايي، خو د الکهف سورت په پېل کې داسې عجیبې پیښې او نښانې شته چې له فتنو ډېرې لوی دي چې دجال پرې خلک تېر باسي، نو څوک چې دا آیتونه په غور سره ولولي او پرې پوه شي، هغه به د دجال په فتنه کې نه لوېږي. او په یوه بل روایت کې راغلي چې: د الکهف سورت وروستي لس آیتونه چې دې آیت څخه پیلېږي: {أَفَحَسِبَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَن يَتَّخِذُواْ...}.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6265

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee